د افغـــانستان اســـلامي امـــارت
د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

۲/ صفر المظفر /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۲۷ /اسد /۱۴۰۲هـ، ش

# د اسلام له نظره د جوماتونو د آدابو او احکامو رعايت کول

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله، وأشهد أن لآاله الا الله وحده لا شريک له ، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، وصلى الله عليه وعلى آله وأصحابه اجمعين، وبعد.

جوماتونه د الله تعالی شعائر او ددين نښې دي او د الله تعالى د شعائرو رعايت کول د زړونو تقوا ده او د مسلمان دغوره خصلتونو څخه دی. الله جل جلاله فرمايلي دي: { ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ عِندَ رَبِّهِ} الحج: (۳۰)

په يو بل مبارک آيت کې فرمايي: {ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ} الحج: (۳۲)

لکه چې په تيره جمعه کې مو وويل جماتونه د الله تعالى سپيڅلي کورونه دي او د ځمکې په سر الله تعالى ته ترټولو ځايونو جماتونه محبوب او ګران دي، جماتونه د لمونځ، تلاوت، اعتکاف، ذکر ، دعاء، د الله د توحيد او تمجيد بيانولو او د خطبې د اوريدلو مقدس ځايونه دي. جمات هغه سپيڅلې ځای دی چيرې چې بنده په کې خپل خالق ته تضرع او عاجزي کوي، له خپل پروردګار څخه خپل حاجتونه او اميدونه غواړي او په خپلو ګناهونو اعتراف کوي او دهغو ښننه په کې غواړي. جومات هغه ځای دی په کوم ځای کې چې مؤمن د شيطان، د شرک او مشرکينو څخه خپله بيزاري اعلانوي.

بناءً جوماتونه يو لړ آداب او حکمونه لري او هر مسلمان ته په کار دي چې د جوماتونو آداب او احکام رعايت کړي او د سرغړونو څخه يې ځان وساتي.

امام ابوالليث سمرقندي رح په مختصره توګه د مسجد هغه آداب او احکام ذکر کړي دي چې رعايتول يې په کاردي :(مسجد ته دداخليدو پر وخت به پرهغه چا سلام اچوي چې په لمانځه ولاړ نه وي، مسجد ته د داخليدو پر وخت به دوه رکعته تحية المسجد لمونځ کوي، داخيستلو او خرڅولو څخه به ځان ساتي، توره به په تيکي کې ساتي، د ورک شي د اعلان څخه ځان ساتل، پرته له ذکر څخه به د لوړ آواز کولو څخه ځان ساتي، دهر ډول دنيوي خبرو څخه به ځان ساتي، د خلکو په څټونو باندې به پښې نه اړوي، په ځای باندې به شخړې نه کوي، صف کې به په بل کس باندې نه تنګوي، د لمونځ کوونکي په مخ کې به نه تيريږي، په مسجد کې به د خولی لاړې نه توکي، په جومات کې به دګوتو څخه ټکونه نه وباسي، پاک به ساتي مسجد له نجاست، ليونيو، ماشومانو او دحدودو داجراکولو څخه او په مسجد کې به د الله ذکر زيات کوي او له ذکر څخه به نه غافله کيږي).[تنبيه الغافلين]

**تفصیل:**

**دجوماتونو د ذکر شوو او ځینې نورو آدابو او احکامو تفصیل په لاندې توګه دی:**

**۱- څوک چې جومات ته د تللو اراد ه وکړي ، ده ته په کار دي چې پاکې جامې واچوي، په ځان دې خوشبوی ولګوي او په وقار سره دې جومات ته لاړشي او جومات د ننوتلو پر وخت دې ښي پښه وړاندې کړي او دا دعاء دې ووايي:(اللهمَّ افتح لي أبوابَ رحمتِك). ای الله! بر سیره کړه ماته ستا د رحمت دروازې.**

**۲- جومات ته د داخلیدو پر وخت به پر هغه چا سلام اچول چې په لمانځه ولاړ نه وي او په تلاوت مشغول نه وي.**

**کله چې څوک جومات ته داخل شي او خلک ناست وي، په ناستو خلکو به سلام اچوي، که چیرې خلک په لمانځه یا په تلاوت باندې مشغول وو؛ له ځان سره دي ووايي:(السَّلَامُ عَلَيْنَا من رَبِّنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ). [الموطأ للامام مالک، تنبیه الغافلین]**

**۳- دجومات له آدابو څخه یو ادب دادی چې کله څوک جومات ته داخل شي؛ په کارده چې دوه رکعته تحية المسجد لمونځ وکړي، ځکه په حدیث شریف کې راځي:(إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ).صحيح البخاري**

**ترجمه:- کله چې یو له تاسې څخه داخل شي جومات ته، نو دوه رکعته لمونځ دې وکړي مخکې له دې چې کیني.**

**تحية المسجد لمونځ هغه مستحب لمونځ دی چې زیات خلک يي نه رعایتوي، دا سنت طریقه ده چې څوک جومات ته داخل شي لومړی دې دوه رکعته تحية المسجد لمونځ وکړي او بیا دې کیني؛ آن تردې چې ځینې علمای کرام وايي چې په کیناستو سره تحية المسجد نه فوت کیږي، که چیرې کیني کولای شي چې بیا پاڅیږي او تحية المسجد لمونځ وکړي.[التعليق المجد موطأ للامام محمد] تحية المسجد لمونځ به په مکروه وخت کې او د خطبې ویلو په وخت کې نه کوي.**

**۴- د جومات له آدابو څخه دا هم ده چې په جومات کې به آخیستل او خرڅول نه کوي، ځکه چې جومات د دنیوي معاملاتو لپاره نه دی بنا شوی؛ بلکې د عبادت لپاره بنا شوی دی.په حدیث شریف کې راځي:( إِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَبِيعُ أَوْ يَبْتَاعُ في المَسْجِدِ ،فَقُولُوا: لا أَرْبَحَ اللهُ تِجَارَتَكَ). سنن الترمذي**

**ترجمه:- که چیرې تاسو څوک ولیدل چې خرڅول کوي او یا اخیستل کوي په جومات کې، ورته ووایئ: الله تعالی دې په تجارت کې ګټه مه اچوه.**

**قال الامام الخطابي:(ويدخل في هذا كل أمر لم يبن له المسجد: من أمور معاملات الناس، واقتضاء حقوقهم).[شرح السنة للبغوی]**

**امام خطابي وايي:(په دې حدیث کې هرهغه کار شامل دی چې جوماتونه د هغو لپاره نه دی بنا شوي لکه د خلکو معاملات او د خلکو حقوق پوره کول).**

**عن عطاء بن يسار أنه كان يقول لمن أراد أن يبيع فی المسجد:(عليك بسوق الدنيا ، فإنما هذا سوق الآخرة).[شرح صحيح البخارى ـ لابن بطال]**

**ترجمه:- د عطاء بن یسار رح څخه روایت دی ، هغه به هغه چاته ویل چې په جومات کې به یي اخیستل او خرڅول کول. لاړشه! د دنیا بازار ته ځکه دا د آخرت بازار دی.**

**۵- د جومات د آدابو څخه دا هم ده چې سلاح او توره به په خپل تیکي او پوښ کې وساتل شي او د داسې سلاح سره مسجد ته داخلیدل په کار نه دي چې ویره او خطر زیږوي؛ ځکه جمات د امن او امنیت کور دی او د نا امنۍ څخه یي ساتل په کاردي.**

**نبي عليه السلام د مکې د فتحې پروخت وفرمایل:( وَمَنْ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَهُوَ آمِنٌ). سنن أبی داود**

**ترجمه:- څوک چې مسجد ته داخل شو، هغه به په امن کې وي.**

**په حدیث شریف کې راځي:( مَنْ مَرَّ في شَيْءٍ مِنْ مَسَاجِدِنا ، أَوْ أَسْوَاقِنَا ، وَمَعَهُ نَبْلٌ فَلْيُمْسِكْ ، أَوْ لِيَقْبِضْ عَلَى نِصَالِهَا بكَفِّه ؛ أَنْ يُصِيبَ أَحَداً مِنَ الْمُسْلِمِينَ مِنْهَا بِشَيْءِ ) متفق عليهِ**

ترجمه:- څوک چې تیریږي زمونږ دمسجدونو په کومه برخه کې او یا زمونږ په بازارونو کې او له هغه سره غشي وي؛ نو د غشو څوکې دې ونیسي او په خپل موټي کې دې ونیسي څوکې د غشو؛ ترڅو کوم مسلمان ته کوم ضرر ونه رسیږي.
حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه په یو مرفوع حدیث کې فرمایلي دي:(خصال لا ینبغین في المسجد: لا یتخذ طریقا، ولا یشهر فیه سلاحا، ولا ینبض فیه بقوس، ولا ینثر فیه نبل، ولا یمر فیه بلحم نيئ، ولا یضرب فیه حد، ولا یقتص فیه من احد، ولا یتخذ سوقا). [سنن ابن ماجه] څه خصلتونه دي چې په کار نه دي چې په جومات کې وشي: په مسجد کې دې لاره نه جوړیږي، په جومات کې دې سلاح نه راویستل کیږي، لینده به په جومات کې بنده او خلاصه نه کړل شي، او نه دې په کې خپاره کړل شي غشي او نه دې په کې خامه غوښه وړلی کیږي او په حد باندې دې په کې څوک نه وهل کیږي او قصاص دې په کې له چا څخه نه اخیستل کیږي او بازار دې ورڅخه نه جوړیږي.
٦- د جومات له آدابو څخه دا هم دي چې په جومات کې د ورک شوي شي اعلان ونه شی؛ ځکه جوماتونه د اعلاناتو لپاره نه دي جوړ شوي او په جوماتونو کې د ورک شویو شیانو اعلان کول د جوماتونو د آدب مخالف عمل دی. په دې باره کې په آحادیثو کې سخت وعید ذکر شوی دی.په یو حدیث شریف کې راځي:( مَنْ سَمِعَ رَجُلاً يَنْشُدُ ضَالَّةً في المَسْجِدِ فَلْيَقُلْ : لاَ رَدَّها اللهُ عَلَيْكَ ، فإنَّ المَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهذَا ) .[صحيح مسلم] .
ترجمه:- که چیرې تاسې له چا څخه واوریدل چې د ورک شوي شي په اړه یې په اوچت آواز سره په جومات کې اعلان وکړ، نو ورته دې وویل شي: الله تعالی دې درته ورک شوی شی واپس نکړي، ځکه جوماتونه ددې لپاره نه دي بنا شوي.
څوک چې ورک شوي شي په اړه په جومات کې اعلان کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې شخص ته خیراوې او بددعائي کړی ده. دمسلم په حدیث کې راځي:( عن بريدة رضي الله عنه : أن رجلا نشد في المسجد فقال : من دعا إلي الجمل الأحمر ، فقال النبي صلى الله عليه وسلم : لا وجدت إنما بنيت المساجد لما بنيت له). [صحيح مسلم]
ترجمه:- د بریدة رضي الله عنه څخه روایت دی چې بیشکه یو سړي په جومات کې اعلان وکړ او داسې یې ویل: ماته دې ووایي که چا سور اوښ ولید، نو نبي علیه السلام ورته وفرمایل: پیدا دې نکړئ ته سور اوښ. بیشکه جوماتونه جوړ دي دهغه څه لپاره چې جوماتونه ولره جوړ شوي دي یعنی جماتونه د عبادت، لمونځ ذکر او د علم د مذاکرې لپاره جوړ شوي دي د ورکو شیانو د لټولو لپاره نه دي جوړ شوي.
(نشد) په عربي ژبه کې په اوچت آواز سره پوښتنه کول او اعلان کولو ته ویل کیږي.
همدا راز د موندل شوي شي اعلان په جومات کې هم د جمات د آدابو مخالف کار دی، که چیرې څوک کوم شی پیدا کړي، کولای شي چې د جمات په دروازه کې یې اعلان وکړي.
٧-پرته د الله د ذکر او یادولو څخه په جومات کې آواز پورته کول د جومات د آدابو مخالف عمل دی او مونږ ته په کاردي چې په جوماتونو کې آوازونه ټیټ کړو او دجومات عزت او حرمت رعایت کړو.
د قرآن کریم د تلاوت، ذکر، د شرعي علومو د درس او تدریس څخه علاوه په جومات کې آواز پورته کول خلاف ادب کار دی او په شریعت کې ورڅخه ممانعت راغلی دی. په یو حدیث شریف کې راځي: ( وَإِيَّاكُمْ وَهَيْشَاتِ الأَسْوَاق) رواه مسلم .
ترجمه:- او ځانونه وساتئ د بازار په شان د ګډو وډو خبرو، شخړو پیدا کولو او د آواز پورته کولو څخه په جومات کې.[ شرح أبي داود للعيني]
ځکه جومات هغه مقام دی چې بنده خپل پروردګار ته به کې دریږي او باید چې پوره سکون او احترام رعایت کړي او بې نظمي او بې باکی څخه ځان وساتي.
حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه به خلک په جومات کې دلوړ آواز څخه منع کول. په صحیح البخاري کې راځي: عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ ، قَالَ : ( كُنْتُ قَائِمًا فِي المَسْجِدِ فَحَصَبَنِي رَجُلٌ ، فَنَظَرْتُ فَإِذَا عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ ، فَقَالَ: اذْهَبْ فَأْتِنِي بِهَذَيْنِ ،

فَجِئْتُهُ بِهِمَا، قَالَ: مَنْ أَنْتُمَا - أَوْ مِنْ أَيْنَ أَنْتُمَا؟ - قَالاَ: مِنْ أَهْلِ الطَّائِفِ ، قَالَ: لَوْ كُنْتُمَا مِنْ أَهْلِ البَلَدِ لَأَوْجَعْتُكُمَا، تَرْفَعَانِ أَصْوَاتَكُمَا فِي مَسْجِدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) . صحيح البخاري

ترجمه:- سائب بن يزيد رضي الله عنه فرمايي: زه په جومات کې ولاړ وم چا له شا څخه په ګیتکۍ وویشتلم ،ومې کتل چې حضرت عمر رضي الله عنه دی.راته يي وويل لاړشه ماته دغه دوه کسان راوله، هغه ته مې هغه دوه کسان راوستل. هغه ورته وويل: تاسو څوک یاست او دتاسو له کوم ځای څخه یاست؟ هغوی دواړو وويل مونږ د طائف څخه یو.که چیرې تاسې ددې ښار اوسیدونکی وای نو تاسو به مې دردولی وای.آیا تاسو خپل آوازونه پورته کوئ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په جومات کې؟

په جومات کې سکوت او آرامي حفظ کول دومره مهم دي چې ځينو فقهای کرامو ويلي دي چې په جومات کې په ذکر او تلاوت او درس او تدریس کې هم اعتدال رعایتول په کار دي او د ضرورت څخه زیات آواز پورته کول په کار نه دي.[مرقاة المفاتيح]

حتی ځينې علماء وايي چې په جومات کې د اهل عرفان او اهل تصوف خلکو څخه چې ځينې کارونه صادريږي چې د جومات احترام خدشه دار کوي داد آدب خلاف کار دی .(وقال الْإِمَامُ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ السَّرَخْسِيُّ فَفِي هذا الحديث بَيَانُ كَرَاهَةِ رَفْعِ الصَّوْتِ عِنْدَ سَمَاعِ الْقُرْآنِ وَالْوَعْظِ فَتَبَيَّنَ بِهِ أَنَّ ما يَفْعَلُهُ الَّذِينَ يَدَّعُونَ الْوَجْدَ وَالْمَحَبَّةَ مَكْرُوهٌ لا أَصْلَ له في الدِّينِ.ويمنع الصوفية من رفع الصوت وتخريق الثياب).[ البحر الرائق، الفتاوى الهندية، رد المحتار حاشية الدر المختار]

په جومات کې په لوړ آواز سره د جائزو اشعارو ويل هم منع دي. په يو حديث شريف کې راځي: ( نَهَى عَنْ تَنَاشُدِ الْأَشْعَارِ فِي الْمَسْجِدِ ) .رواه النسائي

نبي علیه السلام منع کړی ده په يو بل په اوچت آواز سره د شعر ويلو څخه په جومات کې.

ددې وجی نه حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه د جومات څخه بيرون یوځای جوړ کړ او اعلان یي وکړ چې څوک شعر ويل غواړي، د جومات څخه بيرون دې هغه ځای ته ووځي. (و بنى عمر بن الخطاب رضي الله عنه رَحْبَةً فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ ، تُسَمَّى الْبُطَيْحَاءَ ، وَقَالَ : مَنْ كَانَ يُرِيدُ أَنْ يَلْغَطَ أَوْ يُنْشِدَ شِعْرًا ، أَوْ يَرْفَعَ صَوْتَهُ ، فَلْيَخْرُجْ إِلَى هَذِهِ الرَّحْبَةِ).[الموطأ للامام مالك]

البته که چیرې نیک او غوره شعر وي داسلام او یا د نبي کريم صلی الله علیه وسلم یا صحابه کرامو مدح او توصيف په کې وي یا غوره اخلاق ، زهد او تقوا په کې بیانیږي، داسې شعر ويل په جومات کې جائز دي؛ خو چې په داسې آواز سره وي چې څومره ضرورت وي او له ضرورت پرته اوچت آوازونه ويستل په جوماتونو کې خلاف ادب کار دی او د جوماتونو څخه د مشاعرې ځایونه جوړول په کار نه دي.

**٨**- په جومات کې دنيوي خبرې نکول، د جومات د آدابو مخالف عمل دی او په کار ده چې جوماتونه ددنیوي مجلسونو څخه وساتل شي او د جومات احترام رعایت شي. په جوماتونو کې د مجلسونو کولو په اړه په يو حديث کې راځي:(سَيَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ قَوْمٌ يَكُونُ حَدِيثُهُمْ فِي مَسَاجِدِهِمْ لَيْسَ لِلَّهِ فِيهِمْ حَاجَةٌ).[ صحيح ابن حبان، تنبيه الغافلين]

ترجمه:- زر دې چې وي به آخره زمانه کې داسې قوم چې د هغوی خبرې به په جوماتونو کې وي، نه به وي دوی ته دالله څه حاجت.

جومات کې د خبرو لپاره کیناستل حرام دي او که چیرې د لمانځه لپاره څوک راشي او بیايي په جومات کې خبرې وکړی ، دا کار حرام نه دی خو خلاف ادب دی؛ ځکه جماتونه د عبادت لپاره دي.

په فتاوی الهنديه کې راځي:( الْجُلُوسُ في الْمَسْجِدِ لِلْحَدِيثِ لَا يُبَاحُ بِالِاتِّفَاقِ لِأَنَّ الْمَسْجِدَ ما بُنِيَ لِأُمُورِ الدُّنْيَا وفي خِزَانَةِ الْفِقْهِ ما يَدُلُّ على أَنَّ الْكَلَامَ الْمُبَاحَ من حديث الدُّنْيَا في الْمَسْجِدِ حَرَامٌ).[الفتاوى الهندية]

ترجمه:- په جومات کې د خبرو لپاره کیناستل مباح نه دي په اتفاق د علماوو سره ، ځکه چې جومات د دنيوي کارونو لپاره نه دي جوړ شوي. په خزانة الفقه کې چې څه راغلي دي، هغه په دې دلالت کوي چې مباح خبرى کول ددنيوي کارونو په اړه په جومات کې حرام دي.
په فتح القدير کې راځي: ( والكلام المباح فيه مكروه يأكل الحسنات).[ شرح فتح القدير]
ترجمه:- مباح خبرى کول په جومات کې مکروه دي او نيکي خوري.
د جومات څخه حجره جوړول په کار نه دي، البته که چيرې ځينې وخت کې په غير دوامداره توګه په ټيټ آواز سره په جومات کې خبرې وشي، کوم باک نلري، فقهاوو په دې اړه هم خبره کړې ده چې کله ناکله په جومات کې مباح خبرى کول جواز لري خو خلاف آدب کار دى.

۹- د خلکو په څټونو باندې به نه تيريږي. د جومات له آدابو څخه دا هم ده چې څوک جومات ته داخل شو، په کوم ځاى کې چې دناستې ځاى وي، هلته دې کيني او مخکې صفونو ته د رسيدو لپاره دې د خلکو په څټونو نه تيريږي،البته که چيرې په مخکني صف کې ځاى وي او پرته له دې چې خلکو ته اذيت ورسوي او ورته ور مخکې شي باک نلري.
په حديث شريف کې راځي:(عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ : كُنَّا إِذَا أَتَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- جَلَسْنَا حَيْثُ نَنْتَهِى).[السنن الكبرى للبيهقي] دجابر بن سمره رضي الله عنه څخه روايت دى؛ هغه وايي مونږ به چې کله د رسول الله صلى الله عليه وسلم خواته راغلو، نو په هغه ځاى کې به کيناستو په کوم ځاى کې به چې پر مونږ مجلس ختميدلو.يعنى په اخر د مجلس کې به کيناستو.
په يو بل حديث شريف کې راځي: ( عن أبي الزاهرية عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ قَالَ : كُنْتُ جَالِسًا إِلَى جَانِبِهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ يَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- : اجْلِسْ فَقَدْ آذَيْتَ وَآنَيْتَ). [السنن الكبرى للبيهقي]
ابو زهراويه فرمايي چې زه د عبدالله بن بسر رضي الله عنه په څنګ کې ناست وم د جمعې په ورځ، هغه وايي چې يو سړى راغى د خلکو په څټونو باندې تيريده، نبي عليه السلام ورته وفرمايل: کينه! په تحقيق سره خلکو ته دې اذيت ورسولو او وروسته راغلى.
په يو بل حديث شريف کې راځي:( إِنَّ الَّذِي يَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيُفَرِّقُ بَيْنَ الاثْنَيْنِ بَعْدَ خُرُوجِ الْإِمَامِ كَالْجَارِّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ).[ مسند أحمد ]
ترجمه:- بيشکه هغه شخص چې د خلکو په څټونو اوړي او امام ته ځان نږدې کوي د جمعې په ورځ او ددوه کسانو په منځ کې جدائي راولي، دامام ممبرته د ختلو څخه وروسته په شان د هغه ګاونډي دى چې کلمې يي په اور کې وي.
امام ابن نجيم وايي: کله چې څوک جامع جمات ته حاضر شو او جمات ډک ؤ، نو د خلکو په څټونو دې نه تيريږي، خو که چيرې چاته يي ضرر نه رسولو داسې چې دچا په جامو او يا په جسد يي پښې نه کيښودلى باک نلري چې مخکې لاړ شي او امام ته نږدې شي.[البحر الرائق]
۱۰-په ځاى باندې به چا سره شخړه نه کوي.د جومات له آدابو څخه دا هم ده چې په جومات کې کوم ځاى خالي ؤ، هلته دې کيني او په جومات کې دې د ځان لپاره ځاى نه خاص کوي؛ ځکه ټول خلک په جومات کې مساويانه حق لري.
رسول الله صلى الله عليه وسلم په جومات کې دځان لپاره ځاى نيولو څخه منع کړې ده.
په حديث شريف کې راځي: (عن عبد الرحمن بن شبل - رضي الله عنه - قال : نهى رسولُ الله -صلى الله عليه وسلم- عن نقْرَةِ الغراب ، وافتراشِ السَّبُع ، وأن يُوَطِّن الرجلُ بالمكان في المسجد كما يُوَطِّنُ البعير). [سنن أبي داود والنسائي].

ترجمه:- د عبدالرحمن بن شبل څخه روایت دی هغه وایي چې نبي علیه السلام (په لمانځه) کې دکارغه په شانته د ټونګو وهلو څخه نهی کړی ده او د درندګانو په شانته د غوړولو د اندامونو څخه یي نهی کړی ده او ددې څخه یي نهی کړی ده چې خاص کړي یو سړی یوځای په جومات کې د ځان لپاره (چې په بل ځای کې لمونځ نه کوي مګر په هغه ټاکلي ځای کې یي کوي) لکه څرنګه چې خاص کوي اوښ دځان لپاره ځای د پریوتو. (اوښ هم په هغه ځای کې څملي چې کوم ځای یي دځان لپاره انتخاب کړی وي.

امام ابن نجیم رح وایي:( وَيُكْرَهُ تَخْصِيصُ مَكَان في الْمَسْجِدِ لِنَفْسِهِ لِأَنَّهُ يُخِلُّ بِالْخُشُوعِ).[ البحر الرائق]

ترجمه:- مکروه دي تخصیص دیوځای په جومات کې دخپل ځان لپاره ؛ځکه دا کار په خشوع کې اخلال رامنځ ته کوی.

**۱۱-** په صف کې به په چا باندې تنګي نه راولي یعنی صف به پرچا نه تنګوي. ځینې خلک ددې لپاره چې صف سم او سیده شي ددواړو اړخو نو خلکو سره اوږې پیوسته کوي او پښې ورسره نښلوي، تر دې پورې چې په لمونځ کوونکي باندې سخت فشار راوړي چې دا کار د جومات د آدابو خلاف کار دی.

**۱۲-**د جوماتونو دآدابو څخه دا هم ده چې د لمونځ کوونکي په مخ کې به نه تیریږي، ځکه د لمونځ کوونکي په مخکې تیریدل لویه ګناه ده. په حدیث شریف کې راځي:( لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي مَاذَا عَلَيْهِ مِنَ الإِثْمِ لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِينَ خَيْرًا لَهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ).صحیح البخاري

ترجمه:- که چیرې د لمونځ کوونکي په مخکې تیریدونکی له دې څخه خبر وی چې څومره ګناه ده په ده باندې، نو خامخا دریدلی به ؤ څلویښت کاله دا به ښه وه ده لره ددې څخه چې د لمونځ کوونکي په مخ کې تیر شي.

۱۳-لاړې به نه توکي په جومات کې.لاړې تُوکل په جومات کې ناشایسته عمل دی او خلاف ادب کار دی.باید چې په جومات کې د لاړو او اخلاطو تُوکلو څخه جداً ځان وساتل شي. په یو حدیث شریف کې راځي: (عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم: الْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا). صحیح البخاری

ترجمه:- د انس رضی الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: لاړې توکل په جومات کې ګناه ده او دهغې کفاره د لاړو او خړاځکو پټول دي.

د لاړو او خړاځکو څخه ددوو وجو نه ممانعت راغلی دی یو داچې دا هغه شیان دي چې جومات چټلوي او باید چې ځان ورڅخه وساتل شي، بل داچې څوک په لمانځه کې وي دا سوء ادب دی چې خړاځکي مخامخ توکړي بلکې په خپل څادر کې دې توکړي او یا دې چپ طرف ته توکړې او د لمانځه څخه وروسته دې هغه دفن کړي او یادې پاک کړي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: (عَنْ أَبِي سَعِيدٍ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلی الله علیه وسلم أَبْصَرَ نُخَامَةً فِي قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ فَحَكَّهَا بِحَصَاةٍ وَقَالَ : لاَ يَبْزُقِ الرَّجُلُ أَمَامَهُ وَلاَ عَنْ يَمِينِهِ ، وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ ، أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ). [مسند الطیالسي]

ترجمه:- ابو سعید خدری رضی الله عنه وایي چې نبي علیه السلام په دیوال باندې(دجومات دیوال) خړاځکې ولید د قبلې په طرف کې ، هغه یي وګرولو په یوه تیګه باندې او وه یي فرمایل: لاړې دې نه توکي سړی مخامخ او نه ښي طرف ته، بلکې توکي دې چپ طرف ته او یادې د خپلو پښو په منځ کې توکي.

**۱۴-** په جومات کې د ګوتو څخه ټکونه نه باسي، ځکه دا د ادب خلاف کار دی.

**۱۵-** جوماتونه باید د نجاست څخه ، دلیونیانو، د ماشومانو او د حدودو د اجرا کولو څخه منزه وساتل شي.ځکه د جوماتونو پاک ساتل دالله تعالی حکم دی. الله تعالی ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام ته امر کړی ؤ.{ وَعَهِدْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ} البقرة:(۱۲۵)

ترجمه:- او مونږ ابراهیم او اسماعیل ته کلک حکم وکړ داچې تاسو (دواړه) زما کور د طواف کوونکو او اعتکاف کوونکو او رکوع کوونکو، سجده کوونکو لپاره ښه پاک کړئ.

په حديث شريف كې راځي:(عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَتَّخِذَ الْمَسَاجِدَ فِي دِيَارِنَا وَأَمَرَنَا أَنْ نُنَظِّفَهَا). [مسند أحمد]
ترجمه:- د سمره بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته امر کړی دی چې مونږ په کورونو کې جماتونه جوړ کړو او مونږ ته يي امر کړی دی چې هغه پاک وساتو.

نبي عليه السلام د هغې ښځې قبر ته ورغی او د هغې په قبر يي لمونځ وکړ، کومې ښځې چې به جومات پاکولو.

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، أَنَّ امْرَأَةً سَوْدَاءَ كَانَتْ تَقُمُّ الْمَسْجِدَ ، فَفَقَدَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ ، فَسَأَلَ عَنْهَا بَعْدَ أَيَّامٍ ، فَقِيلَ لَهُ : إِنَّهَا مَاتَتْ ، قَالَ : فَهَلاَّ آذَنْتُمُونِي ، فَأَتَى قَبْرَهَا ، فَصَلَّى عَلَيْهَا). سنن ابن ماجة

ترجمه:- دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه فرمايي يوه د تور رنګ والا ښځه وه چې هغې به جمات جارو کولو ، نبي عليه السلام هغه ښځه ونه ليدله او څو ورځې وروسته يی د هغې په اړه پوښتنه وکړه.چا ورته وويل چې هغه خو مړه شوی ده، نبي عليه السلام وفرمايل: نو ولی مو ماته خبر نه دی راکړی، نو بيا نبي عليه السلام د هغې ښځې قبر ته ورغی او لمونځ يي ورباندې وکړ.
١٦-په جومات کې بايد د الله تعالی ذکر وشي او د ذکر څخه غفلت نه دی په کار، ځکه چې جوماتونه دلمانځه، د قرآن کريم تلاوت او ذکر لپاره بنا شوي دي. په جومات کې زيات ذکر کول مستحب دی .د يو حديث په يوه برخه کې راځي:(إِنَّمَا هِيَ لِذِكْرِ اللَّه عَزَّ وَجَلَّ، وَالصَّلاَةِ، وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ). جوماتونه د الله د ذکر لپاره دي ، د لمانځه لپاره دي او د قرآن کريم تلاوت لپاره دي.

١٧-جوماتونو ته بايد په داسې حالت کې داخل شو چې د خولی بدبوي مو لری کړي وي؛ ځکه څوک چې پياز، هوګه ، ګندنه او بدبو لرونکی بوټی وخوري په کار ده چې د ځان نه بدبوی لري کړي او بيا جومات ته لاړشي؛ ځکه د بدبوی څخه ملائکو او انسانان ضرر رسيږي.ځينې خلک بدبوی لرونکي بوټي خوري او په ډيرې بې باکۍ سره جومات ته ځي چې په جومات کې ورڅخه انسانان نفرت کوي او خلکو ته زيات ضرر رسيږي .په افغانستان کې خلک ددې مشکل په اړه ډير بې تفاوته دي.په آحاديثو کې ددې په اړه سخت وعيد راغلی دی. په دې باره کې لاندې وعيدونه راغلي دي: (مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ ، فَلاَ يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا ).متفق عَلَيْهِ.

- عن أنس - رضي الله عنه ، قَالَ: قَالَ النَّبيُّ - صلى الله عليه وسلم :-( مَنْ أَكَلَ مِنْ هذِهِ الشَّجَرَةِ فَلاَ يَقْرَبَنَّا ، وَلاَ يُصَلِّيَنَّ مَعَنَا ) . متفق عَلَيْهِ.

-عن جابر - رضي الله عنه - ، قَالَ : قَالَ النبيُّ - صلى الله عليه وسلم :- ( مَنْ أَكَلَ ثُوماً أَوْ بَصَلاً فَلْيَعْتَزِلنا ، أو فَلْيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا ) . متفق عَلَيْهِ .

وفي روايةٍ لمسلم : ( مَنْ أَكَلَ البَصَلَ ، والثُّومَ ، والكُرَّاثَ ، فَلاَ يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا ، فَإنَّ المَلاَئِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ بَنُو آدَمَ )).

عن عمر بن الخطاب - رضي الله عنه - : أنَّه خَطَبَ يومَ الجمْعَةِ فَقَالَ فيخطبته : ثُمَّ إنَّكُمْ أيُّهَا النَّاسُ تَأكُلُونَ شَجَرتَيْنِ مَا أرَاهُمَا إلاَّ خَبِيثَتَيْنِ : البَصَلَ ، وَالثُّومَ . لَقَدْ رَأَيْتُ رسولَ الله - صلى الله عليه وسلم - ، إِذَا وَجدَ ريحَهُمَا مِنَ الرَّجُلِ في المَسْجِدِ أَمَرَ بِهِ ، فَأُخْرِجَ إِلَى البَقِيعِ ، فَمَنْ أكَلَهُمَا ، فَلْيُمِتْهُمَا طَبْخاً) . رواه مسلم .

**أقول ، قولي هذا استغفر الله لي ولكم ولسائر المسملين**